قرآني بيان

# د جَمعې سره د نمونځ کولو

# فضيلتونه

د مدني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په وړومبۍ مئي، کال 2026ء (متوقع: 13 ذُو القعده شريف، کال 1447ھ)
د جُمعةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ وړومبۍ مئي، کال 2026ء (متوقع: 13 ذُو القعده شريف، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د جَمعې سره د نـمونځ کولو فضيلتونه

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د بني اِسرائيلو د پاره د شِفا نُسخه
- د نـمونځ د قائمولو معنىٰ
- غل د نـمونځ کولو پهٔ برکت تيک شو
- د جَمعې سره د نـمونځ کولو فضيلتونه

پيشکش

اَلْـمَـدِيْـنَـةُ الْـعِـلْـمِـيَـة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللهِ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللهِ
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللهِ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللهِ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُود شریف فضیلت

عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم قَالَ:

مَا مِنْ مُسْلِمٍ یُصَلِّی عَلَیَّ اِلَّا صَلَّتْ عَلَیْهِ الْمَلَائِکَةُ مَا صلّٰی عَلَیَّ، فَلْیُقِلَّ الْعَبْدُ مِنْ ذٰلِكَ اَوْ لِیُکْثِرْ۔

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** مسلمان چې د څو پورې په ما باندې دُرُود شریف لولي فرښتے په هغهٔ باندې رحمتونه لیږي، اوس د بنده خوښه ده کم لولي او که ډیر۔ (1)

زبان و قلب کی عظمت درودِ پاک سے ہے — ہر ایک غم میں حفاظت درودِ پاک سے ہے
ازل کے دن سے مرے مصطفیٰ کے چرچے ہیں — تمام دَہر پہ رحمت درودِ پاک سے ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْکَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

---

[1] ... ابن ماجه، کتاب اقامه الصلاة ...الخ، باب الصلاة علی النبی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:152، حدیث:907۔

وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارۡكَعُوۡا مَعَ الرّٰكِعِيۡنَ ﴿۴۳﴾

(پاره: 1، سورۂ البقرۃ: 43)

صَدَقَ اللهُ الۡعَظِيۡم وَصَدَقَ رَسُوۡلُهُ النَّبِيُّ الۡكَرِيۡم صلّى الله عَلَيۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او نـمونځ قائم کړئ او زکوٰۃ ادا کړئ او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آيت مبارک مرکزي مضمون

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ د وړومبي سيپارې د سورۂ بقره د آيت: 43 د اوريدو سعادت حاصل کړو، په دې آيت مبارک کښې هم بني اِسرائيلو ته خطاب دے، د دې نه په مخکښيني آيت کښې هغوئي ته د اِيمان قبلولو حُکم ورکړے شوے وو- دلته هغوئي ته د 3 نيک اعمالو حُکم ورکړے شو، ارشاد دے:

(1): وړومبے حُکم:

| | | |
|---|---|---|
| وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ | (پاره: 1، سورۂ البقرۃ: 43) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او نـمونځ قائم کړئ- |

(2): دويم حُکم:

| | | |
|---|---|---|
| وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ | (پاره: 1، سورۂ البقرۃ: 43) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او زکوٰۃ ادا کړئ- |

(3): دريم حُکم:

وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ (پاره: 1، سورۂ البقرة: 43)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ۔

## د بني اِسرائيلو د پاره د شِفا نُسخه

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ دې ځائے کښې ډېره اِيمان تازه کوونکې خبره ليکلې ده، فرمائي: د بني اِسرائيلو عالِمان پهٔ دريو بيمارو کښې اخته وو: (1): ځان خوښي (لکه څنګه چې پهٔ قرآنِ کريم کښې هم پهٔ ځينې ځايونو کښې وئيلے شوي دي چې دوئي خپل ځان ته د الله پاک محبوبان وائي، هغوئي دا ګڼله چې مونږ به هيڅکله دوزخ ته نهٔ ځو، که لاړ هم شو نو يو څو ورځې به پکښې اوسيږو وغيره، دا د هغوئي ځان خوښي وه، کومې چې هغوئي د ايمان راوړلو نه منع کول) (2): دويمه بيماري د مال حِرص (دې خلقو ته به نذرانې ميلاؤيدې، خلقو به دوئي عالمان، فاضلان ګڼل او د دوئي خدمت به يې کولو، د هغه وخت غير مسلمه حُکمرانانو د دوئي د پاره باقاعده وظيفې مقرر کړې وې، د دوئي د نذرانو او د وظيفو حِرص وو، دوئي ته معلومه وه چې مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے نبي دے خو د دوئي سره د خپلو نذرانو او د وظيفو د بنديدو ويره وه، ځکه يې کلمه نهٔ وئيله) (3): دريمه بيماري د هغوئي دا وه چې دا خلق پهٔ حَسَد کښې اخته وو (د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام نه پس نبوت پهٔ بني اِسرائيلو کښې راروان وو، پهٔ دغه موده کښې چې کومو نبيانو هم تشريف راوړلو، هغوئي ټول هم پهٔ بني اِسرائيلو کښې وو، بيا چې کله اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ اولاد کښې تشريف راوړلو نو دوئي حَسَد شروع کړو چې اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ بني اِسرائيلو کښې ولې رانغلو، د دې حَسَد پهٔ وور کښې پهٔ سوزيدو

هغوئي د کلمې وئیلو، د الله پاک د خوږ محبوب، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غلامۍ کښې د راتللو نه اِنکار اوکړو)- غرض دا چې دا 3 باطني بیمارۍ وې، کومو چې بني اِسرائیل د کلمې وئیلو او د اِسلام د قبلولو نه منع کول، نو د دوئي د دې دریو بیمارو د پاره 3 علاجونه تجویز کړے شول، ارشاد دے: [1]

| | | |
|---|---|---|
| وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ | (پارہ: 1، سورۂ البقرۃ: 43) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او نمونځ قائم کړئ- |

د دې په برکت سره به تاسو ته د ځان خوښۍ نه نجات حاصل شي، یعنې کله چې تاسو په رښتوني زړۀ سره د رَبِّ کریم په حُضُور کښې سر ښکته کړئ، سر په سجده شئ او سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی لولئ نو د دې په برکت به ستاسو غرور مات شي، زړۀ ته به عاجزي راشي او تاسو ته به د ځان خوښۍ د آفت نه نجات حاصل شي- [2]

| | | |
|---|---|---|
| وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ | (پارہ: 1، سورۂ البقرۃ: 43) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زکوٰۃ ادا کړئ- |

د دې په برکت سره به د مال محبت د زړۀ نه ووځي او

| | | |
|---|---|---|
| وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِیْنَ | (پارہ: 1، سورۂ البقرۃ: 43) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ- |

---

[1] … تفسیرِ نعیمی، پارہ: 1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت: 43، جلد: 1، صفحه: 339 مفصلاً-

[2] … تفسیرِ نعیمی، پارہ: 1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت: 43، جلد: 1، صفحه: 339 مفصلاً-

یعنې د جَمعې سره نـمونځ کوئ! کله چې تاسو جومات ته حاضر شئ او د نورو مسلمانانو سره په صف کښې یو ځائے ودریږئ، کله چې ووینئ چې

ایک ہی صَف میں کھڑے ہو گئے محمود و اَیاز
نہ کوئی بندہ رہا، نہ کوئَی بندہ نَواز( 1 )

یعنې ◈ که څوک مالداره دے او که غریب ◈ که څوک خان دے او که نوکر ◈ که څوک حُکمران دے او که په عامه رعایا کښې شمیرلے کیږي ◈ که څوک د وخت غوث دے او که عام ګنهګار بنده دے، کله چې د رَبِّ رحمان په حُضُور کښې حاضر شول نو ټول په یو صف کښې ولاړ دي، د چا د پاره ځانله اِمتیازي مسند تیار نکړے شو چې فلانکے حضرت به په دې عظیم مسند باندې سجده کوي او غریب اِنسان به په زمکه باندې سر ږدي، داسې هیڅ څۀ اِمتیاز نشته، د رَبِّ کریم په حضور کښې چې د حاضرئ دا عظیم او د عاجزئ او اِنکسارئ نه ډک منظر ووینئ، په هغې کښې شرکت اوکړئ نو د دې په برکت سره به په تاسو کښې حسد ختم شي- لهذا اے بني اِسرائیلو! دا 3 کارونه کوئ! (1): نـمونځ قائم کړئ! (2): زکوٰة ادا کړئ! (3): او د رُکوع کوونکو سره په شریکه رُکوع کوئ! په دې بے مثاله د شِفا په نُسخه کښې ستاسو د ټولو باطِني بیمارو عِلاج دے، ځکه د خپلو باطِني بیمارو عِلاج اوکړئ او کلمه ولولئ او د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم جولۍ ونیسئ!

---

[1] ...کلیاتِ اقبال، بانگ درا، صفحه:193۔

# پهٔ آیت مبارک کښې د زدکړې سبق

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ آیت مبارک کښې 3 حُکمونه شوي دي، دا حُکمونه صرف د بني اِسرائیلو د عالمانو د پاره نهٔ دي بلکې زمونږ د پاره هم دي، پهٔ مونږ باندې هم لازم دي چې دا 3 نیک اعمال اِختیار کړو، پهٔ دې کښې زمونږ د اِیمان حفاظت هم دے او د دې سره سره ډیرې د دُنیا او د اخرت فائدې هم پهٔ دې نیک اعمالو کښې میلاؤیږي- راځئ چې د دې نیک اعمالو څهٔ وضاحت او د دې برکتونه واورو:

## (1): نـمونځ قائم کړئ---!!

وړومبے نیک عمل د کوم چې دلته حُکم راکړے شوے، هغه دے: نـمونځ قائمول- اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ (پاره: 1، سورۂ البقرة: 43) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او نـمونځ قائم کړئ- |

پهٔ دې ځائے کښې خو وړومبے د نـمونځ قائمولو پهٔ معنیٰ باندې ځان پوهه کړئ! زمونږ پهٔ معاشره کښې داسې ډیر خلق دي، کوم چې مَعَاذَاللہ! شریعت او طریقت بیلوي، نوم د تصوف اخلي او انداز هغه اِختیاروي کوم چې د منافقانو دے ، دې نادانو له که چرې د نـمونځ دعوت ورکړے شي نو وائي: قرآنِ کریم خو د نـمونځ کولو هډو حُکم نهٔ دے کړے، د قائمولو حُکم یـې کړے دے او مونږه قائم ساتلے دے- (اَستَغفِرُاللہ!)

پته نهٔ لګي چې د قائمولو نه دا نادانه څهٔ مُراد اخلي، چې نـمونځ نهٔ کوي نو قائم به یـې

څنګه ساتې؟ هُغه ذِیشان رسول، د بي بي آمنه د زړهٔ غانټول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ چا باندې چې قرآنِ کریم نازل شوے، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو ټول عمر نـمونځ کولو، د شپې به یـې دومره اوږد قیام کولو چې ښپې مبارکې به یـې وپړسیدلې- (1)

## د نـمونځ قائمولو معنیٰ

د نـمونځ قائمولو څهٔ معنیٰ ده، پهٔ توجه سره پرې ځان پوهه کړئ! علمائے کرام فرمائي: ◈ نـمونځ صحیح ادا کول (مثلاً د نـمونځ رکوع، سجدې، قِراءَت، قیام وغیره ټول کارونه بالکل داسې ادا کول، څنګه چې رسولِ اَکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښودلي دي) ◈ نـمونځ همیشه کول (پهٔ پینځهٔ واړو نـمونځونو کښې یو هم نهٔ قضا کول) ◈ پهٔ صحیح وخت باندې ادا کول ◈ د نـمونځ فِکر کول، که پهٔ سفر کښې یـې او که پهٔ کور کښې، که روغ یـې او که ناروغه، پهٔ هر حال کښې نـمونځ کول، دې ته نـمونځ قائمول وئیلے شي- صوفیائے کرامو د دې وضاحت داسې کړے دے چې قلب او قالِب (یعنې زړهٔ او وجود) د الله پاک طرف ته متوجه ساتلو سره نـمونځ کول، نـمونځ قائمول دي- (2)

## زما طرف ته توجه اوکړه!

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بیانوي چې د دواړو جهانود سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: چې کله بنده د نـمونځ د پاره ودرېږي نو هغه د الله پاک پهٔ بارګاه کښې

---

[1]... بخاری، کتاب الرقاق، باب الصبر عن محارم، صفحه:1591، حدیث:6471۔

[2]... تفسیرِ نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:43، جلد:1، صفحه:340339 مُفصلاً۔

حاضر وي، چې کله هغه اخوا دیخوا ګوري نو الله پاک ارشاد فرمائي: ته د چا په لور ګورې؟ آیا زما نه د بهتر په لور ګورې؟ اے اِبنِ آدم (یعني اے انسانه!) زما په لور متوجِّه شه! زۀ د هغه نه بهتر یم د چا په لور چې ته ګورې- (1)

## په لمونځ کښې لږم 40 ټکه وچیچله

حضرت عبدُ الله بن مبارَک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: په ورو کوالي کښې ما لیدلي یوه عبادت ګزاره زنانه ما ته ښۀ یاده ده- د لمونځ په حالت کښې لړم هغه څلویښت ټکه وچیچله خو د هغې په حالت کښې لږ شان فرق هم رانغلو- چې کله هغه د لمونځ نه فارغه شوه نو ما ووئیل: مورې! دا لړم تاسو ولې نه لرې کوو؟ جواب یې راکړو: څویه! اوس لا ته ماشوم یې، دا څنګه مناسب وه! **زۀ خو د خپل رَبّ په کار کښې مشغوله ووم نو خپل کار به مې څنګه کولو؟** (2)

سُبۡحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته هم د داسې لمونځ کولو توفیق راعطا کړي- خیر! الله پاک مونږ ته د لمونځ قائمولو حُکم راکړے دے او د قائمولو مطلب دا دے چې ◈ لمونځ صحیح اوکړے شي ◈ په وخت باندې اوکړے شي ◈ همیشه اوکړے شي ◈ د لمونځ فِکر اوکړے شي او که الله پاک توفیق راکړي نو د زړۀ په توجه سره په ځان پوهه کولو سره لمونځ اوکړے شي- مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکلي دي: لمونځ

---

[1] ...مسند بزار، المکیون عن ابی ہریرہ، جلد:16، صفحہ:200، حدیث:9332۔

[2] ...کشف المحجوب، کشف الحجاب الخامس فی الصلاۃ، صفحہ:355۔

قائمول (يعنې د نــمونځ د ظاهري او باطني د آدابو پۀ خيال ساتلو نــمونځ كول) اِنسان د بدیٔ او د بدو خبرو نه بچ كوي- (1)

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا كړي، چې پۀ داسې انداز كښې مونږ نــمونځ كوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! داسې بركتونه به مو نصيب كيږي چې ټوله دُنيا به مو ښه شي، اخرت به مو هم ښۀ شي-

## غل د صحيح نــمونځ كولو پۀ بركت صحيح شو

يو ځل د مدينے د سركار، د زړونو د قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دربار كښې عرض اوكړے شو: فلانكے كَس د شپې نــمونځ هم كوي او سحر غلا هم كوي! اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ډير زر به نــمونځ هغه د بد عمل نه منع كړي- (2)

## د يو مجازي عاشق نا اشنا او عجيبه واقعه

حضرت عبد الرحمان صَفّوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ نُزهَةُ المَجالِس كښې يوه عجيبه واقعه ليكلې ده، د كومې خلاصه چې دا ده چې يو كَس پۀ يوه زنانه باندې عاشق شو، اخر يــې همت اوكړو او هغۀ هُغې زنانه ته پۀ يوه چيټیٔ كښې د خپل عشق اظهار اوكړو- هُغې زنانه د ډيرې شريفې كورنیٔ سره تعلق لرلو، د چيټیٔ كتو سره پريشانه شوه، وادۀ شوې هم وه، د سوچ فِكر كولو نه پس يــې هغه چيټیٔ خپل خاؤند ته وړاندې كړه- د هغې خاؤند پۀ يو جومات كښې

---

[1]… تفسيرِ نعيمى، پاره:1، سورۂ بقرة، زير آيت:43، جلد:1، صفحه:340 بتغير قليل۔

[2]… مسند امام احمد، مسند ابى ہريره، جلد:4، صفحه:658، حديث:10030۔

امام وو او ډیر پرهیزګاره او ډیر هوښیار هم وو، د هغهٔ په خپله ښځه باندې ډیر اِعتماد وو- لهٰذا هغه د چیتیِ پهٔ جواب کښې د خپلې ښځې د طرف نه دا جواب ولیکو چې پهٔ فلانکي جومات کښې پهٔ فلانکي اِمام پسې بغیر د پریښودو 40 ورځې پینځه واړه نـمونځونه د جمعې سره ادا کړه، بیا به مخکښې کتے شي- هٰغه عاشق پهٔ پابندیِ سره د جمعې سره نـمونځ شروع کړو- څنګه چې ورځې تیریدې د نـمونځ برکتونه پهٔ هغهٔ باندې ظاهریدل شروع شول- چې کله څلویښت ورځې پوره شوې نو د هغهٔ د زړهٔ دنیا بدله شوې وه نو هغه دا پیغام ولیږو: (محترمې! د نـمونځ پهٔ برکت سره زما سترګې وغړیدې، ما به مَعَاذَ الله د حرام کاریِ خوبونه لیدل خو د الله کریم ډیر زیات شکر دے چې هغهٔ ما ته ستا د محبت نه نجات راعطا کړے دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه!) ما د خپلې بد نیتیِ نه توبه کړې ده او ستا نه هم معافي غواړم- چې کله هٰغې زنانه خپل خاؤند ته دا پیغام واورولو نو د هغهٔ پهٔ ژبه یو دم جاري شول: صَدَقَ اللهُ الْعَظِیْمُ فِیْ قَوْلِهٖ (یعنې رَبِّ عظیم پهٔ خپل دې ارشاد کښې بالکل رښتیا فرمائیلې دي):(1)

| | |
|---|---|
| اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ ؕ (پارہ:21، سورۂ العنکبوت:45) | ترجمہ کنزُ العِرفان: بیشکه نمونځ د بےحیایۍ او بدو خبرو نه منع کول کوي - |

بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہیئے آپ پڑھتے رہیں باجماعت نَماز
آؤ مسجِد میں جُھک جاؤ ربّ کے حضور تم کو دلوائے گی حق سے رِفعت نماز

[1]... نزہۃ المجالس، شب و روز کی نمازوں کے فضائل، جلد:1، صفحہ:395۔

کیوں نمازی جہنم میں جائے بَھلا!　　اِس کو دِلوائے گی باغِ جنّت نماز(1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د نـمونځ مختلف 25 فضیلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د نـمونځ عادت اِختيار کړئ! نـمونځ قائم کړئ! يعنې پهٔ صحيح طريقه يـې اوکړئ! هميشه يـې کوئ! ټول نـمونځونه کوئ! او که الله پاک توفيق درکړي نو د زړهٔ پهٔ لګولو سره يـې کوئ! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نـمونځ ډير اعلیٰ عبادت دے، ډير افضل عبادت دے ◈ نـمونځ د الله پاک د رضا سبب دے ◈ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو يخ والے پهٔ نـمونځ کښې دے ◈ د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت نـمونځ دے ◈ نـمونځ د تيارهٔ قبر ډيوه ده ◈ نـمونځ د قبر د عذاب نه بچ کول کوي ◈ نـمونځ د قيامت پهٔ نمر کښې سورے دے ◈ نـمونځ د پل صراط د پاره اساني ده ◈ نـمونځ نُور دے ◈ نـمونځ د جنَّت کُنجي ده ◈ نـمونځ د دوزخ د عذاب نه بچ کول کوي ◈ د نـمونځ سره رحمت نازليږي ◈ الله پاک به د قيامت پهٔ ورځ د نـمونځ کوونکي نه راضي کيږي ◈ نـمونځ د دِين ستن ده ◈ پهٔ نـمونځ باندې ګناهونه معاف کيږي ◈ نـمونځ د دُعاګانو د قبليدو سبب دے ◈ نـمونځ د بيمارو نه بچ کول کوي نـمونځ بدن ته راحت ورکوي ◈ د نـمونځ سره پهٔ رزق کښې برکت راځي ◈ نـمونځ د بے حيايۍ او بدو کارونو نه منع کول کوي ◈ نـمونځ د شيطان خوښ نهٔ دے ◈ نـمونځ د قبر پهٔ تياره کښې د

[1]... وسائلِ فردوسِ صفحه:2322 ملتقطًا۔

تنهايي ملګرے دے ◈ نـمونځ د نيکو چاړے درنوي ◈ نـمونځ د مؤمِن مِعراج دے ◈ په وخت نـمونځ ادا کول د ټولو اعمالو نه افضل دے ◈ د نـمونځ کوونکي د پاره د ټولو نه لوئي نعمت دا دے چې هغه به د قيامت په ورځ د الله پاک ديدار کوي۔

| | |
|---|---|
| ہر عِبادت سے برتر عِبادت نماز | ساری دَولت سے بڑھ کر ہے دَولت نماز |
| قلبِ غمگین کا سَامانِ فَرحَت نماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صحت نماز |
| صبر سے اور نمازوں سے چاہو مدد | پوری کروائے ہر ایک حَاجَت نماز[1] |

## (2): د جَمعې سره د نـمونځ کولو حُکم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په دې آيت مبارک کښې د نـمونځ په باره کښې يو بَل حُکم راکړے شوے دے چې

| | |
|---|---|
| وَارۡكَعُوۡا مَعَ الرّٰكِعِيۡنَ (پاره: 1، سورۃالبقرۃ: 43) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ۔ |

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: د دې مطلب دا دے چې د جَمعې سره نـمونځ کوئ! ځکه چې د جَمعې سره نـمونځ د ځانله نـمونځ کولو نه 27 درجې افضل دے۔ (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په هر ◈ مسلمان نارينه ◈ عاقل يعني ښوک چې عقل

---

[1]... وسائلِ فردوسِ صفحه:22 ملتقطًا۔

[2]...تفسير نعيمی، پاره:1، سورۂ بقره، زيرِ آيت:43، جلد:1، صفحه:340۔

مند دے، پاګل نۀ دے ◈ بالغ دے، نابالغه نۀ دے ◈ ازاد دے، غلام نۀ دے او ◈ قادِر دے، يعنې جومات ته د تللو طاقت لري، پۀ هغه باندې پينځه واړه نـمونځونه پۀ جومات کښې د جَمعې سره ادا کول واجِب دي، که بغير د څۀ شرعي مجبورۍ نه يو ځل هم جَمعه پريږدي نو ګنهګاريږي به او که ډير ځل جَمعه پريږدي نو داسې ګس فاسِق دے۔ [1] او کوم ګس چې جومات ته د تللو طاقت نۀ لري مثلاً ړوند دے، يا د هغۀ ښپې روغې نۀ دي، سخت بيمار دے، ګرځيدے نشي نو پۀ داسې ګس باندې اګر که جَمعه واجِب نۀ ده، البته د هغۀ د پاره هم افضل دا دي چې که هر څنګه وي جومات ته راشي او د جَمعې سره نـمونځ ادا کړي۔

## د جَمعې سره د نـمونځ کولو فضيلتونه

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: ما د دواړو جهانو د سردار، د مدينے د تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې **الله پاک د جَمعې سره نـمونځ کوونکي محبوب ساتي (يعنې خوښوي يې)۔** [2]

حضرت ابو سعيد خدرِي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بيانوي: د الله پاک اخري رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې بنده د جَمعې سره نـمونځ اوکړي بيا د الله پاک نه د خپل حاجت (يعنې ضرورت) سوال اوکړي نو الله پاک د دې خبرې نه حيا فرمائي چې هُغه بنده د حاجت

---

[1] …بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:582، حصه:3بتغير قليل۔

[2] …مسند احمد، جلد:2، صفحه:309، حديث:5112۔

پوره کيدو نه مخکښې واپس لا ړ شي- (1)

جماعت سے گر تو نمازیں پڑھے گا | خدا تیرا دامن کرم سے بھرے گا

پۀ يو **حديثِ پاک** کښې دي: د نارينه نـمونځ پۀ جومات کښې د جَمعې سره، پۀ کور کښې او پۀ بازار کښې د کولو نه 25 درجې زيات دے- (2) او پۀ يو **حديثِ پاک** کښې دي: د جَمعې سره نـمونځ د ځانله نـمونځ کولو نه 27 درجې زيات دے- (3)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** فرض کړئ چې د چا سره د تجارت سامان دے، که هغه دا پۀ خپل ښار کښې خرڅوي نو د هغې قيمت به 100 روپۍ وي او که د سمندر نه پورې څي او هلته هُغه سامان خرڅوي نو پۀ 2500 يا 2700 روپۍ به خرڅيږي نو هغه به يقيناً چې د سمندر نه پورې تلل او خپل مال خرڅول خوښوي چې 25 چنده يا 27 چنده گټه به ئوک پريږدي! افسوس چې د دُنيا د دولت زياتولو د پاره خو د لرې لرې پورې سفر ته تياريږو خو د کور نه پۀ څو قدمه تللو پۀ جومات کښې د جَمعې سره پۀ نـمونځ کولو پۀ يو نـمونځ د 27 نـمونځونو پۀ ثواب گټلو کښې بعضې خلق ناراستي کوي او پۀ کورونو کښې نـمونځ کوي-

بھائی مسجد میں جماعت سے نمازیں پڑھ سدا | ہوں گے راضی مصطفےٰ، ہوجائے گا راضی خدا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... كَنْزُ الْعُمَّال، كتابُ: الصّلوٰة، جز:7، جلد:4، صفحه:227، حديث:20239-

[2] ... بُخارى، كتاب: الاذان، صفحه:223، حديث:646-

[3] ... بُخارى، كتاب: الاذان، صفحه:223، حديث:645-

## د جَمعې سره عشق لرونکے عالِم

حضرت محمد بن سَمَاعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اِمامِ اعظم، اِمام اَبُو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ شاګردانو کښې دے، د هغوئي 103 کاله عمر وو، هغوئي به روزانه 200 رکعته نفل نــمونځونه کول- د هغوئي د جَمعې سره د نــمونځ کولو دا حالت وو چې فرمائي: پرله پسې د 40 کالو پورې زما نه د يو ځل نه علاوه چرته هم تکبير اُولیٰ نهٔ دے قضا شوے- پهٔ کومه ورځ چې زما مور وفات شوه، پهٔ هٔغه ورځ رانه د يو وخت جَمعه قضا شوه نو ما پهٔ دې خيال سره چې د جَمعې پهٔ يو نــمونځ 25 چنده زيات ثواب ميلاؤيږي، هٔغه نــمونځ ما ځان له 25 کرته اوکړو، بيا پهٔ ما څهٔ پرکالي راغله نو چا راته پهٔ خوب کښې ووئيل: 25 نــمونځونه خو تا اوکړل خو د فرښتو د آمين به څهٔ کوې؟ [1] (2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د الله پاک د نيکانو بندګانو د جَمعې سره د نــمونځ کولو د جذبې به څهٔ وايم! چې د يو نــمونځ د جَمعې پهٔ قضا کيدو باندې حضرت محمد بن سماعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هٔغه نــمونځ 25 کرته اوکړو!

ہو کرم اے ربِّ رحمت! پیئے سرورِ رسالت
نہ نمازِ باجماعت کی چھٹے کبھی سَعَادت( 3 )

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نور پهٔ دې واقعه کښې د فرښتو د آمين بيان هم شوے، د

---

[1]… تَارِيخ بَغْدَاد، رقم:921، محمد بن سماعة بن عبيدالله، جلد:2، صفحه:404۔

[2]… تَارِيخ بَغْدَاد، رقم:921، محمد بن سماعة بن عبيدالله، جلد:2، صفحه:404۔

[3]… فيضانِ نماز، صفحه:168۔

جَمعې سره پهٔ نـمونځ کښې د سورۀ فاتحه نه پس پهٔ ورو اواز کښې آمین وئیلے کیږي، دغه شان د دُعا نه پس مونږ هم آمین وایو، د آمین معنیٰ ده: هم داسې دې وشي- د فرښتو د آمین هم څومره ښکلے شان دے! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله چې اِمام غَیۡرِالۡمَغۡضُوۡبِ عَلَیۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّیۡنَ ۟ ووائي نو آمین وایئ! چې د چا آمین وئیل د فرښتو د آمین د وئیلو مطابق شي، د هغوئي مخکښیني ګناهونه به وبخښلے شي- (1)

## د جَمعې د قضا کیدو غم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو وکتل چې د جَمعې سره د نـمونځ څنګه څنګه برکتونه دي- ظاهره ده چې څوک د جَمعې سره نـمونځ نهٔ ادا کوي، هغه به د اِمام صاحب د سورۀ فاتحه د لوستلو نه پس آمین هم نشي وئیلے او څوک چې پهٔ دې موقع باندې آمین وه نهٔ وئیلے شي نو یقیناً چې هغه د ګناهونو د بخښلو یوه عظیمه موقع ضائع کړه خو آه! زمونږ د ناراستۍ او غفلت علاج به څوک کوي! افسوس! هُغه وخت راغلے دے چې بے شمیره نـمونځ کوونـکي هم اوس د جَمعې پروا نهٔ کوي بلکې که چرته ترې نـمونځ هم قضا شي نو هغوئي پرې نهٔ خفه کیږي، د دِین د بزرګانو، د الله پاک د نیکانو بندګانو حالت دا وو چې که د هغوئي نه به چرته تـکبیرِ اُولیٰ قضا شوه نو د 3 ورځو پورې او که جَمعه به ترې قضا شوه نو پهٔ هغې به د 7 ورځو پورې پهٔ غم کښې وو- (2) د صحابي ابنِ صحابي حضرت عبد الله بن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما پهٔ باره کښې منقول دي چې که چرې د هغوئي نه به جَمعه قضا شوه

---

1 ... بُخاری، کتاب الاذان، باب جهر الماموم بالتامین، صفحه:251، حدیث:782۔

2 ... مکاشفة القلوب، باب فضل صلاة الجماعة، صفحه:400۔

نو د بل نـمونځ پورې به يـې نفلونه کول-[1] پهٔ يو روايت کښې دي: کله چې به ترې د ماسخوتن جَمعه قضا شوه نو ټوله شپه به يـې پهٔ عبادت کښې تيروله-[2] د تابعي بزرګ حضرت سعيد بن عبد العزيز رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه به چې کله جَمعه قضا شوه نو خپله ږيره به يـې نيوله او ژړل به يـې-[3]

## د جَمعې سره د نـمونځ کولو فضيلتونه

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د صحابهٔ کرامو رَضِىَ اللهُ عَنۡهُم او اوليائے کرامو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم پهٔ باره کښې دا سوچ هم نشي کيدے چې دوئي به قصداً عمداً د شرعي اجازت نه بغير د جَمعې سره نـمونځ قضا کړي، د څهٔ مجبورئ پهٔ وجه به د جَمعې پهٔ قضا کيدو باندې د هغوئي دا حالت وو خو آه! اوس دلته ډير خلق بغير د څهٔ شرعي مجبورئ نه د جَمعې سره د نـمونځ نهٔ کولو پهٔ افت کښې راګير پهٔ نظر راځي او د چا نه چې د جَمعې سره نـمونځ قضا شي، هغهٔ ته افسوس کيدل خو لويه خبره ده د هغهٔ پهٔ خندا او وينا کښې څهٔ قِسمه فرق هم نهٔ راځي! کاش--!! چې د جَمعې قضا کوونکو ته دا اِحساس کيدلے چې د جَمعې د قضا کيدو پهٔ شکل کښې د هغوئي څومره نقصان شوے دے- د روايتونو مطابق ◈ د فرض نـمونځ د جَمعې سره پهٔ ادا کولو کښې د اِيمان والا کيدو ګواهي ده ◈ الله پاک د جَمعې سره نـمونځ کوونکي محبوب ساتي (يعني خوښوي) يـې- ◈ د جَمعې سره نـمونځ د ځانله

---

[1]... الاصابة، رقم: 4883، عبد الله بن عمر، جلد: 4 صفحه: 151-

[2]... تاريخ ابن عساكر، رقم: 3421، عبد الله بن عمر بن خطاب، جلد: 31، صفحه: 128-

[3]... تاريخ ابن عساكر، رقم: 2514، سعيد بن عبد العزيز...الخ، جلد: 21 صفحه: 203-

نـمونځ کولو نه 27 درجې افضل دے ◈ الله پاک او د هغهٔ فرښتے د جَمعې سره پهٔ نـمونځ کوونکو باندې دُرُود رالیږي ◈ د جَمعې سره د ماسخوتن نـمونځ کول ګویا د نیمې شپې قیام (یعنې عبادت) کول دي ◈ د سحر نـمونځ د جَمعې سره کول ګویا د ټولې شپې قیام (یعنې عبادت) کول دي ◈ د جَمعې سره نـمونځ کوونکے به پهٔ پل صراط د بجلۍ پهٔ شان تیریږي ◈ د جَمعې سره د نـمونځ کوونکو شان او شوکت چې ووینې نو د حشر والا به پرې رَشک کوي ◈ د هغوئې ګناهونه به بخښلے کیږي ◈ څوک چې جومات ته د جَمعې د نـمونځ د پاره راشي، هغهٔ ته به د هر قدم پهٔ بدله کښې ثواب میلاؤیږي ◈ د جومات طرف ته د تلونکي پهٔ هر قدم باندې یوه درجه زیاتیږي او ◈ یوه ګناه ورانولے کیږي ◈ الله کریم به د هغهٔ د پاره سحر او ماښام د میلمستیا انتظام کوي۔ ◈ د نـمونځ د پاره پورته کیدونکے هر قدم صدقه ده ◈ اِنسان چې د څو پورې د جَمعې اِنتظار کوي، پهٔ خیر باندې به وي ◈ د الله پاک پهٔ حفاظت کښې به وي ◈ د شیطان نه به محفوظ وي ◈ د جَمعې سره د نـمونځ کوونکي به د قیامت پهٔ ورځ د عرش سورے نصیب کیږي ◈ د هغهٔ به د دوزخ، منافقت او د غفلت نه نجات نصیب کیږي ◈ او د جَمعې سره د نـمونځ یو برکت دا هم دے چې د دې پهٔ برکت پهٔ خپل مینځ کښې محبت زیاتیږي۔ (1)

پهٔ یو اورږد **حدیثِ پاک** کښې دي، سرکارِ عالي وقار، د مدینے تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: ◈ څوک چې د سحر نـمونځ د جَمعې سره اوکړي، بیا کښیني او د الله پاک ذِکر کوي د دې پورې چې نمر راوختو د هغهٔ د پاره به پهٔ جَنَّتُ الفِردوس کښې 70 درجې وي، د هرو

---

[1] ... فیضانِ نماز، صفحه:139۔

2 درجو پهٔ مينځ کښې به دومره فاصله وي څومره چې تربيت يافته تيز رفتاره د ښه نسل اَس پهٔ 70 کالو کښې وهي او ◈ چا چې د ماسپښين نـمونځ د جَمعې سره ادا کړو، د هغهٔ د پاره به پهٔ جَنَّتِ عَدن کښې 50 درجې وي، د هرو 2 درجو ترمينځه به دومره فاصله وي څومره چې يو تربيت يافته تيز رفتاره د ښه نسل اَس پهٔ 50 کالو کښې وهي او ◈ چا چې د مازيګر نـمونځ د جَمعې سره ادا کړو، د هغهٔ د پاره به د اسماعيل [عَلَيْهِ السَّلَام] پهٔ اولاد کښې د داسې 8 غلامانو د ازادولو ثواب وي کوم چې د کعبې شريفې خيال ساتونکي وي او ◈ چا چې د ماښام نـمونځ د جَمعې سره اوکړو، د هغهٔ د پاره به د قبول شوي حج او د قبول شوې عمرې ثواب وي او ◈ چا چې د ماسخوتن نـمونځ د جَمعې سره اوکړو، د هغهٔ د پاره به پهٔ لَيلةُ القَدر کښې د قيام (يعنې د عبادت) کولو همره ثواب وي-[1]

| | |
|---|---|
| خدا! سب نمازیں پڑھوں باجماعت | کرم ہو پئے تاجدارِ رسالت |

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): زکوٰة ادا کړئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ آيت مبارک کښې دريم حُکم دا راکړے شو چې

| | |
|---|---|
| وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ<br>(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 43) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او زکوٰة ادا کړئ- |

[1]... شُعَبُ الْاِيْمَان، بابُ السبعون فی الصّبر علی المصائب، جلد: 7، صفحه: 137، حديث: 9761۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زکوٰة هم ډېر اهم عبادت دے، د اِسلام په 5 بنیادي ارکانو کښې یو بنیادي رُکن دے- د دې هم ډېر فضیلتونه دي او ډېر برکتونه دي- د سبق نه ډک یو روایت واورئ!

## د زکوٰة په فضیلتونو باندې یو څو روایتونه

اِمامِ غزالي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: چا چې د خپل قیمتي مال نه په رضا مندئ او د زړه د خوشحالئ سره زکوٰة ادا کړو نو ◈ په وړومبي اسمان کښې د هغهٔ نوم سَخِيٌّ (یعني سخاوت کوونکے) دے ◈ په دویم کښې د هغهٔ نوم مُبَارَك (یعني د هغه په جان او مال کښې برکت اېښودے شوے دے)، د هغهٔ مال به محفوظ وي ◈ په دریم کښې د هغهٔ نوم جَوَّادٌ (یعني ډېر زیات سخاوت کوونکے) دے ◈ په څلورم اسمان کښې د هغهٔ نوم مُطِیعٌ (یعني فرمانبردار) دے ◈ په پینځم کښې د هغهٔ نوم بَارٌّ (یعني نیکوکار) دے ◈ په شپږم اسمان کښې د هغهٔ نوم مُحۡفُوظٌ (یعني د هغهٔ حفاظت شوے) دے او ◈ په اووم اسمان کښې مَغۡفُورٌ (یعني معاف کړے شوے) دے-

او که چرې (مَعَاذَ الله!) هغه د خپل مال نه زکوٰة نهٔ ادا کوي نو ◈ نو په وړومبي اسمان کښې د هغهٔ نوم دے: بَخِیلٌ (یعني کنجوس) ◈ په دویم کښې هَالِك (یعني تباه او برباد کیدونکے) ◈ په دریم کښې مُتَمَسِّك (یعني د چا نه چې خیر منع کړے شوے وي) ◈ په څلورم کښې مَمۡقُوتٌ (یعني ډېر ناخوښه کَس) ◈ په پینځم کښې عَاصِي (یعني ګنهګار) ◈ په شپږم اسمان کښې د هغهٔ نوم غَیرُ مُحۡفُوظٌ (یعني غیر محفوظ، د چا چې حفاظت اونکړے شي) دے ◈ او په اووم اسمان کښې مَرۡدُودٌ (یعني هغه کَس د کوم چې نـمونځونه او روژې

مردودې دي)-

## د بيان خُلاصه

د بيان خُلاصه دا ده چې د بني اِسرائيلو عالمانو به خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے پيژندلو هم او منلو به يې هم، د دې باوجود به يـې كلمه نهٔ وئيله او اِسلام ته نهٔ داخِليدل، د دې سبب د هغوئي درې باطِني بيمارياني وې: (1): ځان خوښي (2): د مال حِرص (3): حَسَد- د هغوئي د دې دريو بيماريانو درې علاجونه تجويز كړے شول، اِرشاد دے:

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾

(پاره: 1، سورهٔ البقرة: 43)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او نـمونځ قائم كړئ او زكوٰة ادا كړئ او د ركوع كوونكو سره ركوع اوكړئ-

دا د باطِني بيمارو درې علاجونه دي: (1): نـمونځ قائم كړئ! (2): زكوٰة ادا كوئ (3): او د رُكوع كوونكو سره رُكوع كوئ (يعني نـمونځ د جمعې سره ادا كوئ!)-

الله پاک دې مونږ ته د دې دريو واړو نيک اعمالو د اِختيارولو توفيق راعطا كړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آن لائن اِستخاره موبائل ايپلي كيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ

له خوا د خلقو د اسانۍ او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د غمخورۍ د پاره موبائل ایپلي کیشن ***Online rohani ilaj & istikhara*** معارفي کړے شوے دے- د دې ایپلي کیشن په مرسته تاسو ◈ آن لائن استخاره کولے شئ ◈ د بیمارۍ، نظر، جادو، منتر وغیره مسئلو د حل کولو د پاره في سبيل الله تعویذونه حاصلولے شئ ◈ او آن لائن کاټ هم کولے شئ- **نور په دې ایپلي کیشن کښې** ◈ د بیمارۍ ◈ غریبۍ ◈ غم، پریشانۍ ◈ او د افتونو او بلاګانو وغیره نه د حفاظت مختلف اوراد او وظیفې هم شاملې دي- په خپل سمارټ فون کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ! بچپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بیان په اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** د مور او پلار، د ښځې او د بچو وغیره په سر باندې قَسم خوړل ناجائزه او ګناه ده-

**وضاحت:** عام طور دلته دا انداز دے چې خلق د خپلې مور، پلار، خور ورونړو وغیره په سر باندې قَسمونه خوري، مثلاً څوک وائي: زما دې په خپل د غیرې په بچي باندې قَسم وي! څوک وائي: زما دې په خپلو وفات شوو مور او پلار باندې قَسم وي! وغیره- یاد ساتئ چې

داسې قَسم خوړل ناجائزه او ګناه ده- [1] **حُضُورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** بے شکه الله پاک تاسو د خپل پلار د قَسم خوړلو نه منع کوي، کوم کَس چې قَسم خوري نو هغه دې په الله پاک باندې قَسم خوري يا دې خاموش اوسي- [2]

**نوټ:** داسې په غَيرُ الله د قَسم خوړلو سره کفاره نهٔ لازمي کيږي-

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنٰی برکتونه (وظيفه)

## يَا تَوَّابُ

څوک چې د څاښت د نـمونځ نه پس 360 کرته د الله پاک نوم **يَا تَوَّابُ** لولي، الله پاک به هغهٔ ته د توبةُ النَّصوح (يعني د رښتوني پخې توبې توفيق) نصيب کړي- [3]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]… دار الافتاء اہل سنت، فتویٰ نمبر: Pin6863۔

[2]… بخاری، کتاب الایمان والنذور، باب لا تحلفوا بآبائکم، صفحہ: 1625، حدیث: 6646۔

[3]… مدنی پنج سورہ، صفحہ: 257۔